# د غني خان ژوند، اند او فلسفه

ليکوال: پوهيالی سراج احمد ژواک

**لنډيز**
د غني خان په اړه تر دې دمه ډېر زيات سيمينارونه، کتابونه، رسالې او مقالې ليکلې شوې دي، چې په کې تر ډېره بريده د ده د شخصيت تياره اړخونه څه نا څه څرګند شوي دي، خو بيا يې هم دا واړه کارونه په اړه بويه بشپړ و نه ګڼل شي؛ ځکه د يوه داسې چا په باب څه ليکل، چې د لومړي ځل لپاره يې د يوې ژبې د مسلط شعري بهير څخه په ډېره مېړانه انحراف کړی وي، څه اسانه خبره نه ده. دا خبره مې ځکه راغبرګه کړه، چې په پښتو ادبياتو کې نه تر ده وړاندې په دې کم و کيف دا ډول شاعري کوم چا کړې وه او نه يې وروسته ساری وليدل شو. پر همدې اساس يې ځينې څېړونکي په افراط سره اوس د پښتو د معاصر ازاد نظم بنسټ ايښودونکی ګڼي. خو موږ به په کې يوه دا خبره هم ور زياته کړو، چې نوموړی په پښتو ادبياتو کې د منظمو او سيستماتيکو فلسفي افکارو بنسټګر هم دی.

**بنسټيز ويونه: غني خان، ژوند، اند، شعر او فلسفه.**

**سريزه**

د غني خان د ژوند او سياسي مبارزې په باب به د هغه د هنر او ادب له څېړنې څخه پرته ډېرې څرګندونې شوې وي، خو لکه څرنګه چې څرګنده ده، چې هنر او ادب د هغه د پنځګر د شخصيت هينداره وه، نو د دا ډول څرګندونو وړاندې کول به له ځينې نيمګړتياوو څخه خالي نه وي. نو اوس په دې پار وېتېيله شو، چې داسې يوه ليکنه وکښل شي، چې د غني خان ژوند او سياسي مبارزه خپله د ده له خولې څخه په کې څرګنده شوې وي او دغه

راز يې تر څنګ په کې د نوموړي اند، تصوف او فلسفي ته هم د يوې نوې زاويې څخه کتل شوي وي. خدای دې وکړي، چې ستاسو ښاغلو تر لوستلو وروسته زموږ دا هيله او مرام لکه څرنګه چې پتېيل شوی ؤ، هم تر سره شي.

**غني خان**

غني خان د فخر افغان خان عبدالغفار خان (پاچا خان) زوی، په (۱۹۱۴) زيږديز کال د پښتونخوا د هشنغر د سيمې په اتمانزو کلي کې زيږدلی او پـه (۱۹۹۶) زيږديز کال د خپل ستري ژوند زوال، تر هغې وروسته له لايزال سره يو ځای کړ، چې د پښتو ژبې او ادب د ناوې پـه اوربل کـې يـې د پنجرې چغار،فانوس، ګډې وډې، پلوشـې او (دي پهتـان) يعنـې (پښتانه) ګلونه وتومبل.

د پلار په وينا يې چې آن لا د عمر په پنځه کلنی کـې نيږدې ؤ، چې يوې نـاروغی چـې دی يې د وباه ناروغي ګڼي، د مرګ کومي ته لېږلی ؤ، خو د مور لـه دې دعا وروسته چـې په کې يې له خدای څخه غوښتنه وکړه چې: «اې خدايه! د ده مرض پر مـاکېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې» (۵/۱۲۴). له دې ناوړه ناروغی څخه وژغورل شو او نـاروغي يـې د مور له دعا سره سمه پر مور کېښودل شوه او همدې ناروغی له منځه هم يووړه.

غني خان په وړوکوالي کې اووه کاله د عربي مروج علوم ولوستل، په ځوانی کې يـې پـه لندن کې تحصيلات وکړل، بيا امريکې ته ولاړ(۲/۲۶۵) په خپلې مورنی ژبې پښتو سربېره يې په عربي، اردو او انګليسي ژبو رواني خبرې کولای شوای، په همدې اساس يې د نـورو پښتنو ليکوالو او شاعرانو په پرتله پر شعر فلسفي رنګ ډېر غالب دی. ځکه لرې نـه ده چـې ده به د دې ژبو فلسفي او ادبي اثار لوستي وي او په دې توګه بـه يې د خپل شـعر مـانی هم پرې ودانه کړې وي.

غني د پښتو ژبې او ادب په اسمان کې هغه ځلانده ستوری دی، چې د انسان پـه ښـکلا او لويی او د هغه پـه کمزوريو تر بل هر پښتون شاعر ښه پوهېدلی دی. ده د انسان تکل، غوښتنې او ګناهکار هوسونه د هغه په خپلو مذهبي، فلسفي، سياسـي او خرافي انديښنو کـې څېړلي او ازمويلي دي. پـه دې توګـه يـې د شـعر پـه سمندر کـې د نـورو پښتنو شـاعرانو پـه پرتله، د تصوف، فلسفي، سياست او طنز مرغلرې ډېرې د څېړونکو ګوتو ته ورتللای شي.

د هندوستان د وېش په پايله کې د پښتنو بې برخې کېدو غني خان په مروجو او بـې ثمره ګوندي سياستونو باندې بې باوره کړ، د سياست د چيغو او نـارو لـه کتـاره را جلا شو او د شعر تيره توره يې د نابيان شوو حقيقتونو او ناويونکو درکونو د بيان او رسوا کولو لپـاره لـه تيکي را وايسته، هر څه يې چې زړه او الهام ورته وويل هغه يې وليکل او پـه دې توګـه يـې هغه لوی عقل چې »شعر «نوميږي صيقل کړ او د رعـايتونو او قيودو لـه ننـګ او شرم نـه يې آزادي ورکړه (۲/ ۲۶۵).

د دې کار له لامله يې آن پلار ته هم په کړو وړو او افکارو کې د لويديځ تهذيب او تمدن نښې نښانې ښکاره شوې او دا وېره ورسره پيدا شوه، چې هسې نـه غني لـه خپلـې ژبـې او فرهنګ نه بېګانه پاتې شوی وي؛ خو غني خان له خپل قام سره د سپېڅلې مينې پـه خـاطر د خپل پلار په لاره ګام واخيست او آن شپږ کاله يې په بنديخانه کې هم تېر کړل.

د ده د پلار لاره تر ډېره بريده د عدم تشدد پر مټ د سپېڅلې ازادی اوج تـه د رسېدو

يو هاند او هڅه ده؛ چې په ځينو ځايونو کې يې د عبدالغني خان غني په ښکلو شعرونو سره منځپانگه لا غني او مفهوم ښه ترا جوت شوی دی:

د دې ژونده څه مطلب شو
چې یا مرې یا به بل وژني
ربه ماله که دې راکړه
بادشاهي د کل جهان
زه به یې وغورزوم له کوره
لکه سوټي په ډېران
دا يوه گړۍ ژوندون زه
په جگړو نشم تېرولی
د دې ظلم په کټوۍ دې
ربه بل کېږده برغولی (۶/ ۲۳۴)

خو په ډېرو ځايونو کې بيا د غني خان فکر ورسره يوازې او يوازې د ازادۍ غوښتو په لاره کې گډ يون کړی دی؛ يعني که چېرته د پلار پر وضع شوو اصولو د ازادۍ د ناوې غېږې ته نه دی رسېدلی، نو په لاره کې يې د پرتو رقيبانو د ځپلو په موخه، توري ته هم لاس اچولی دی.

چې خازې شني مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړ وم راځئ توکئ پرې لاړې
چې قطرې قطرې مې پوځ د دښمن نه کا
مورې ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې
که په خپلو وينو نه وم لمبېدلی
په ما مه پلیتوئ د جومات غاړې
يا به دا بې ننگه ملک باغ و عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوڅې ويجاړې (۶/ ۶)

دلته يې که د افکارو ترمنځ ټکر او تضاد هم ليدل کېږي، نو د سپېڅلتيا پر لمن يې کوم تور داغ بويه ونه کتل شي؛ ځکه د نورو هم نوعو په پرتله انسان د بشريت په تاريخ کې همېشه يو ډول د اضدادو ټولگه پاتې شوی دی؛ چې د انسان دې ډول ځانگړنې ته دی خپله هم داسې نغوته کوي:

چې جهان ته دې گورم حيرانه شم
چې انسان ته دې گورم قی راشي
يو خوا سترگو له گل نرگس راشي
بل خوا زړه له خنجر ازغی راشي(۶/ ۳۳)

د پښتو ادب پلار حضرت خوشحال خان خټک هم په دې برخه کې نوموړي ته ورته نظر لري؛ هغه هم انسان د اضدادو مجموعه کڼي او دې ډول سرشت او ختې ته يې لاس تر زنې حيران ولاړ دی.

ماهیت یې مــونده نه شـــي
چې څه څیز دی د بشــــر
هم ترکیب د نیک و بد دی
هم معـــجون د خیر و شر
هم ملک دی هم حیوان دی
هم مـــــومن دی هم کافــر
کله اور کله اوبه شـــــــي
کله تـــوره کله ســـــپر

غني خان په خپله هم دا د ده او د پلار ترمنځ یې د فکري ټکر او تضاد خبره په خپل یو شعر کې چې د اختلافات تر سرلیک لاندې کښل شوی دی داسې رانغاړي:

پلار مې ورک په خپل وطن
زه د خپل وطـــن نه ورک
د هغه خوښ دی تعلـــــیم
زما خـــوښ ساګ د پالک
د هغه خوښ دي ځـــوانان
زما خـــوښ هــر ګلستان
هـــر چمـــن د لولو ډک
د هغه وطــــــن جـــهان
دا بـــــي نـــــوره بیابان
زما ملک ښکلی اسمــــان
د ښیسته ستـــــورو نه ډک (۶/ ۲۴۲)

د غني او د هغه د پلار ترمنځ په فکري ټکر خو غني خان پورته په خپل شعر کې ځیني څرګندوني راته وکړې، خو دا د دوی دواړو ترمنځ د فکري بېلوالي یو څو لاملونه وو، ځیني نور لاملونه یې هم درلودل، د بېلګې په توګه د غني خان په باب ویل کېږي، چې هغه به د بې ځایه لګښتونو خورا ډېر شوقي ؤ، خو پلار ته یې بیا دې کار ډېر خوند نه ورکاوه، د غني خان د کټه خرڅې خبره خو د هغه د لاندې شعرونو څخه هم څرګندېږي:

شین زمری شه مدام خوره د هوسو غوښې
کټه باز شه همېش خوره د سیسو غوښـــې
یا کـــوه تن اسانـــــــي د غنــــــې یار شه
خوره هر کله بازاری د پېســو غوښـــــې(۶/ ۸۶)

او یا:

دا لېونـــــــــی به هلــــــه
خدایه خوشـــــــحال وي
چې لاس او زړه وي د ده
د قارون مــــــــــال وي(۶/ ۸۷)

په دې ډول سره د غني خان شعري جونګ له هر ډول افکارو او مرغلرو څخه ډک دی، په تيوريکي لحاظ يې که چېرته د شعرونو منځپانګې ته په ژور نظر وکتل شي، نو يو ډول د آرې هستۍ موندنې د هڅې فلسفې رنګ پرې غالب ليدل کېږي. دی خپله خپلې دغې فلسفې ته د جنون او جانان فلسفه وايي.

وايه وايه څومره ښکلي
د دلبر د شان قيصه ده
د جنون او د جــــانان
څه عجبه فلـــــسفه ده (۳/ ۹۷)

دا فلسفه تر ډېره بريده د اشراقي فلسفې په رنګ چې، تر ده وړاندې يې وړانګې د روښانيانو، عبدالرحمان بابا، عبدالقادر خټک او نوروپه شعرونو کې ليدل کېږي، رنګينه ده. چې په کې د دنيا ترک، وحدت الوجود، وحدت الشهود، د مجاز پر زينو د حقيقت عرش ته ختل، عشق پر عقل لوړ ګڼل او داسې نور موضوعات په ښکلې او هنري بڼه شاربل شوي وي؛ چې د غني خان په لاندې نظم کې يې، له ډلې څخه د وحدت الوجود هغه، چې په کې له لوی خدای(ج) څخه پرته د هيڅ شي وجود نه منل کېږي، څرکونه ښه ترا جوت ليدلای شو:

زه يم زه يم رنګ ســــرور او شـــرنګار زه يم
د جانان سترګو کې مړاوی خمــــــــار زه يم
دا تعبير زمـــــا د مـــــست زړه د تلاش دی
يار زما د زړه ارمـــــان دی دلــــدار زه يم
دا زما زړه چـــې د ښېست او رنګ شي اوړی
سپرلی سره ګــــــــلونه راشي بهار زه يم
دا چـــې زه شم د مســــــکو شونډو لېواله
ليلـــی جوړه کړم د حسن معمـــــار زه يم
چې زه نه يم بې معنی جنت اسمـــــان دي
د جهان د سوز او مينې مخـــــــتار زه يم
دومره پوې شوم په دې ړوکی شانې ژوند کښې
يار زما کمـــال، کمـــال د دلـــــدار زه يم( ۶/۲۴۳)

د وحدت الوجود په ګروهه کې نه يوازې دا چې په کې پرته له لوی خدای(ج) څخه د بل شي وجود نه منل کېږي، دا يې هم بنسټيزه سکالو وي، چې د مخلوق د هرې کړنې او ورته د ورشوې پېښې او حادثې ټول دارو مدار په تقدير پورې اړه لري، چې لاسوند يې د قران عظيم الشان دا ايت شريف چې »قُل لَّن يُصِيبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللهُ لَنَا(۵۱)«د توبه سورت/ ۵۱) يعنې هيڅ داسې څه به ونه مومئ چې تاسې ته مخکې له مخکې په تقدير کې نه وي ليکل شوي، ښه ترا مفهوم جوتولای شي. نه يوازې دا ايت شريف، بلکې نور په زرګونو شرعي نصوص يې چې د اسلامي شريعت غونډه مانۍ پرې دنګه ښکاري، لاسوندونه کېدای شي. غني بابا په دې اړه وايي:

چــــې پتنګ د نمـــــر رڼا نه شــــې ليدلی
ګنانګار شو که په شمــــع شـــــــو شــــيدا

زړه کښې چونګ لپه هیله د خاورې ځای شي
چېرته ځای کړم په کي دا د نـــــــــور دریا
څنګه څنګه په یـــــو ګـــــــوټ کښـــــي
دا جهان او اسمـــــــــــان واچـــــــــوم؟
د شبنم څاڅکـــــــــي کـــــــــــي څنګه
د ســـــــــــیندونو دوران واچـــــــــوم؟
او بیا لا د دې دپاســــــــــــــه بــــــه
حســـــــاب او کــــــتاب هـــــــــم وي
د رندو ســـــترګـــــــــــــو بادشاه له به
ســـــــزا او عـــــــذاب هـــــــــم وي؟ (۶/ ۲۲۴)

دا ډول پېژند چي کوم غني خان له تقدیر څخه کړی دی، د تقدیر آر پېژند یي نه شو ګڼلای؛ ځکه تقدیر د الله سبحانه وتعالی لا محدود علم دی، د کړني په برخه کي بیا انسان خودمختاره دی. ځکه الله(ج) خپله په قران عظیم الشان کي فرمایي چي: وَ اَن لَیسَ لِلاِنسَانِ اِلی مَاسَعَی﴿۳۹﴾ وَاَنَ سَعیَهُ سَوفَ یُرَی﴿۴۰﴾ یعني: (او په تحقیق سره چي نشته انسان لره بل څه، مګر هغه څه چي دی ورته هڅه او هاند کوي او په تحقیق سره چي دی به د خپلو هڅو پایله ډېر ژر تر لاسه کړي.) ( ۸/ ۵۱) ښایي غني خان خپله هم خپل دې ناسم پوهاوي ته متوجه شوی وي، نو ځکه یي پړه پر ملا ور اچولې او د خپل یوه بل نظم په یوه برخه کي وایي:

چي اختیار نه وي جانانه څه ګناه د چا ګناه
راته ښکاري ملا جان چېرته تلی دی خطا (۶/ ۱۹۹)

غني خان د جبر او اختیار د کشالو ترمنځ پر یوه ځانګړې داسې پرته لاره باندې ځي، چي هم د اخرت د عذابونو له کنډو کپرو نه پرې وژغورل شي او هم د دنیایي خوندونو څکي په کي وکړي. ځکه د جبر ګروهه انسان یو ډول د تنبلۍ تروږمیو ته ورټېل وهي او د دنیایي ژوند هغه آر لوری او لودن ترې ورکوي. پر همدې اساس د غني خان له هغه په نامه ملا سره چي د جبر پر سکالو یي د اختیار په پرتله تمرکز ډېر وي، د تل لپاره ورانه ده.

ډوډۍ غــــــرپ مـــلا، جنتي مـــلا
حـــلوا قــــــــــب ملا، ولایتي ملا
په پیسو قربان او ســــــــــــتي ملا
د پولاو په شوق خوري پیتي مــــلا
دا بې عشقه، بې جوشـــه او مړ آذان
دا چلي دماغ او ارزان ضـــــــــمیر
د دې سپین دســــتار د توهین یي ته
په دې کور د خدای کښي د بت سفیر (۷/ ۴۲)

دا یوازې غني خان نه دی، چي هغه په نامه ملا د دین د آر مفهوم په نه بیانولو تورنوي،

بلکې تر ده وړاندې ډېرى نورو شاعرانو، چې په ټوله کې ټول يو ډول د قيدوبند پروادار نه وو، د ملا سره پر دې خبره وران پاتې شوي دي. علي خان وايي:

چې کښېني ورسره شرحه د دوزخ کا
هــر مجلس تر مرګ بدتر د زاهدانو

وحدت الوجودي ګروهه د وحدت الشهودي هغې پرمختللي بڼه ده، يعنې کله چې پر انسان باندې د الله سبحانه وتعالی مينه ډېره غالبه شي، نو په مجازي نړۍ کې پرته د هغه تبارک وتعالی له حسن او وړانګو څخه بل څه نه ويني او يوازې هماغه يو وجود ورته ښکاري؛ خو په وحدت الشهود کې بيا سالک او عارف ته د بل څه په وجود کې پرته له دې چې د هغه له خپل آر وجود څخه نېټه وکړي، د الله سبحانه وتعالی وړانګې په څېړو ښکاري؛ لکه غني خان چې وايي:

هر شي کښې ساخت او تول او شمار
لاس د اســــتاد صـــــفا ښـــــــکاره
هــــــــره ذره د جـــــهان کښې دى
هر شي يو تول کښــــــــې ګنډلى دى
جوړ او په سوچ چوړ شـــــــوى دى
ستوري او نمـــــــــــر او رڼا او هوا
هر يو يې لاس کښې نيولـــــــــى دى(۶/ ۳۷)

مخکې مو وويل چې د اشراق د فلسفې يوه بنسټيزه سکالو دا هم ده، چې مجاز د حقيقت پرتو او ترې بېل شى نه دى، انسان په حقيقت کې هغه نکته ده، چې غونډه دايره يې په غېږه کې پرته ده، پر همدې اساس ازلي حسن ته د رسېدو په پار بايد د مجازي هغه پر زينو باندې د زړونو پلونه کېښودل شي.

په يو ګوټ کښې دريابونه دي ځاى کړي فقيرانو
د ليلى په يو نظر سور مجـنون تلى تر رحمان ؤ(۶/ ۵۴)
سرداري نه کېږي د توري د مستۍ نه بغير
الله ليدى نه شي د حسن پرســــــتۍ نه بغير(۶/ ۲۱۶)

د غني خان فلسفي نړۍ ليد په يوه بل ځاى کې هم هماغه د اشراقي فيلسوفانو غوندې د اشياوو او پديدو د آر حقيقت د موندنې په پار عقل محدود او مردود ګڼي؛ ځکه چې د لامحدود احاطه نه شي کولاى.

عقل، عقل، عقل څه دى کفر، کفر، کفر دى
عقــل يې چې ګير کړى دى غلام غلام زما (۳/ ۶۰)

دلته سړي ته فرانسوي روسو ورياد شي، چې ويلي يې دي: »عقل کېداى شي چې د خداى او ابديت په ضد وي، خو احساسات د هغوى په حق کې دي.« (۳/ ۶۰)

عقل چې محدود شو، نو د حقيقت موندني په موخه به انسان له کومې وسيلې څخه کار واخلي؟ د اشراق فلسفه خو يې بديل زړه را په ګوته کوي، وبه ګورو چې غني خان ورته څه بديل لري؟ که چېرته د هغه فلسفې ته هم ژور نظر وکړو، په دې لار کې له زړه څخه پرته بل کوم بديل په کې نه مومو:

نابینا عقل مي مست زړګي ته پرېښود
اوس تیاره کي د غــــم شو رهبر زما (۳/ ۶۰)

د اشراق فلسفه تر ډېره بریده د اسلامي تصوف او عرفان سره هم اړخ لګوي، بلکي په ډېرو ځایونو کي خو يي ماني په همدې خښتو دنګه ښکاري، په اسلامي تصوف او عرفان کي تر ډېره مرید په دې مکلف ګڼل کېږي، چي هغه څه چي دی د تصوف په لاره کي ورسره مخامخېږي، باید چاته ونه وايي او که چېرته ترې وويل شول نو د منصور غوندې به د دار سره مخامخ شي، غني خان وايي:

منصور یو لېونی وه، د معشوق اداب يي هېر کړه
منصور یو لېونی وه د مستی شراب يي ډېر کړه
وې مستي دا زما نه ده د جانان د سترګو نور دی
زما د خولې خبرې هم تورات او هـــم زبور دی
دا رنګ زما د سترګو نه دی رنګ دی د جــانان
دا شرنګ زما سینه کي د ښېو شرنګ دی د جانان (۶/ ۴۷۳)

د فیلسوفانو ترمنځ تر ډېره دا پوښتنه هم ډېره شاربل کېږي، چي حسن د مینې زېږنده دی او که مینه د حسن، غني خان په دې باب کي مینه د حسن زېږنده ګڼي او وايي:

حسن ښکارېدو له یو وجود یو شــــکل غواړي
حسن چي ښکاره شي مینه يي ویني مئینه شي
بې وجــوده حسن مینه نه شی جـــــــوړولی
مینه هله جوړه شي چي حسن راښکاره شـــــي (۶/۶۴)

د غني خان فلسفي فکر تر ډېره بریده په ځینو ځایونو کي د »ایډیالېزم فلسفي بنسټ «له پلیونو سره هم ورته والی لري، د بېلګي په توګه: په ایډیالېزم فلسفي بنسټ کي ژوند په دوو برخو وېشل کېږي؛ لومړی هغه چي تر مرګ له مخه ده او دویمه هغه برخه چي تر مرګ وروسته پیلېږي. لومړی ژوند ژر تېرېدونکی او بشپړېدونکی دی او دویم ژوند تلپاتې او بېپایه بنه لري. مرګ له لومړني ژوندانه څخه د دویم پر لوري د تېرېدو یو پُل دی، چي هر ژوندی ساکښ مجبور دی چي هرومرو به یو ځل ترې تېرېږي. (۴/ ۲۲) غني خان وايي:

مرګ لویه نېکی ده چي تا وکړه د انســـــان سره
مرګ ستا کور له یوړو ګنې و به تل له ځان سره
مرګ هغه نېته ده چي جانان کېښوه جــانان سره
مـرګ پېته نکاح ده د مـــــــکان له لامکان سره (۳/ ۷۰)

له ژبني پلوه د غني شعرونه تر ډېره په خپلي هشنغرۍ لهجي لیکل شوې دي، که چېرې څوک له دې لهجي سره بلدتیا ونه لري، نو هرومرو به يي په شعرونو کي سکتې او پېچلتیاوې په نظر ورشي، نه یوازې له دې لامله يي شعرونه په لوستلو کي سکتې پیدا کوي، بلکي په ځینو ځایونو کي يي پر شعر فکر دومره غالب شوی چي آن د یوه ښکلي نثر او ادبي ټوټې ګمان پرې کېدای شي. د بېلګي په توګه يي لاندې شعر ته تمېرو:

چي څه مي زړه کښـــــــي دي وئیلی نه شم چي دروغ وایمه شـــــرمېږم

ما د کتاب په دې معصومه زمـــکه چـــــــرې دروغ ليکلي نه دي ګله
ستا د خائشت ثاني دنيا کښې نشته، هــــر چا ته خپل جانان ليلی ښکارې
اې د وفا د ميني بلـــــــي شمعې اې د ژوندون اخر جـــــانانه زمـــــا
ستا د رفتار او کړه او وړه په مخ کښې دا ښاپيرئ دا هوسی شلې ښکارې (۶/ ۶۱۴)

پر همدې اساس يې ځينو څېړونکو تـه هغـه ډول شعرونو چې پـه کې سـکتې او پېچلتيـاوې ډېرې نه تر سترګو کېږي، د ده نه ښکاري؛ لکه د ده دا لاندې مشهوره ترانه:

اې زما وطـــــــنه د لعـــــلونو خزانـــي زما
ستا هره دره کـــــې دي د تورو نښانـــــې زما
سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې ايرې شه ستا د پاره د فکـــــــرونو نه
ځــار شمه، قربان شم ستا د غرونو د سيندونو نه
ستا هـــره دره کـــې دي د تورو نښانـــې زما
اې زما وطـــنه د لعــــــــلونو خـــزاني زما (۶/ ۶۰۴)

خو د دې سره ـ سره بيا هم که له ښکلائيزه اړخه د غني خان شعرونو تـه وکتل شـي، نو د يوه لوړ او لـه ادبي اړخـه د پـه تـول پوره شـعرونو ټولـې ځلاوې يـې پـه سـترګو کـې سترګکونه وهي. تلميح، حسن تعليل، عارفانه تجاهل، مدعا المثل، تجنيس، پرسنوفکيشن او د ادبي فنونو داسې نورې ګڼې ښکلاوې په کې ليدل کېږي. د لاسوند لپاره يې لـه ډلـې څخـه د عارفانه تجاهل، چې په کـې شـاعر پـه يوه معلوم او څرګند شـي ځـان ناګـاره اچوي، لانـدې بېلګه وړاندې کولای شو:

د عاشق مخموره ســــترګې
که د يار مخموره شــــوندې
که غوټۍ دي د نرګســــــــو
په سرو ګوتو کې راغوندې (۶/۳۱)

**پايله**

د دې ليکنې پايله دا را پـه ګوتـه کـولای شـي، چې غني خان نـه يـوازې د پښتو ژبـې او ادبياتو شاعر او ليکوال ؤ، بلکې د دې ژبې د ويوونکو د حقـه حقوقو غوښـتونکی او سياسـي مبارز شخصيت هم ؤ، د غه راز د دې ژبې په هنر او ادبيـاتو کـې د منظمو او سيستماتيکو فلسفي افکارو طراح او بنسټ ګر هم بويه وپېژندل شي، ځکه تر ده وړانـدې د يوې دې ډول منظمې فلسفي نړۍ جغرافيوي حدود او قلمرو موږ د پښتو او پښتنو د تخليق پر ځمکـه نـه وينو. تر ده وروسته هم په دې کم و کيف فلسفي فکر او خيـال د چا لـه خوا نـه دی وړانـدې شوی، پر همدې اساس د غني خان د شعر لوری او لـودن د نـورو پښتنو شـاعرانو پـه پرتلـه ګوښـی او ځـانګړی محسوسېږي.

**اخځليکونه**


۱- قرانکريم

۲- روهي، محمد صديق. (۲۰۰۸). **د پښتو ادبياتو تاريخ**. پېښور: دويم ټوک. دويم چاپ. دانش خپرندويه ټولنه.

۳ــ سيد عابد جـان. (۲۰۰۵). **فلسفه د جنـون او جانـان**. پيښور: دويم چـاپ. دانـش خپرندويه ټولنه.

۴- شېرواني، علي. (۲۰۱۴). **د فلسفې کليات**. د محمد حامد ژواک ژباړه او د امين الله دريځ سريزه. کابل: دانش خپرندويه ټولنه.

۵ــ عبدالغفار خـان. (۲۰۱۲). **زمـا ژونـد او جـد و جهـد**. پيښور: دويم چـاپ. دانـش خپرندويه ټولنه.

۶- غني، غني خان. (۲۰۰۵). **لټون**. پېښور: يونيورسټي بُک ايجنسي.

۷ــ کرګر. محمد اکبر. (۲۰۱۵). **فرهنګي بحثونه**. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

۸- نقشبندي، علاءالدين. (۲۰۱۰). **د تصوف حقيقت او د نقشبنديه طريقې يو بحث**. د بشير دوديال ژباړه. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.